AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اځر

۲۰۲۵/۰۳/۰۸

# د یهودو عادلانه جګړې

(دري اویایمه برخه)

**د عربو او اسراییلو جګړې**

**د حماس او اسراییلو جګړه، د اکتوبر ۷مه، ۲۰۲۳ز. کال. (۲)**

**سرغړونې او جنګي جنایات**

د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر له ۷مې نېټې راپدېخوا هغه مهال چې اسراییلي صهیونستانو د امریکایانو په ملاتړ پر غزې باندې خپل ویجاړوونکي هوایي او راکټي بریدونه پیل کړل، پرته له دې چې د حماس د وسلهوالو او بېوسلې عامو فلسطینیانو تر منځ توپیر وکړي، د خپلو یهودي خاخامانو د فتواګانو پر بنسټ[1] یې ملکي فلسطینیان د مقاومت له وسلهوالو سره یو ځای په خلاص لاس بمبار کړل چې په دې بمباریو کې هره ورځ په سوونو ښځې ماشومان او بې دفاع فلسطینیان وژل کېدل، د دې جګړه پر مهال د اسراییلو یو ګوډاګي، عرب توکمه (دروزي)[2] جنرال، (غسان علیان) د اسراییلو د (COGAT) مشر وویل:**«له انسان ډوله ځناورو [فلسطینیانو] سره دا ډول چلند کوو، اسراییلو پر غزې بشپړه محاصره لګولې ده، برېښنا او اوبه نه شته، یوازې ویجاړۍ او زیانونه دي. تاسو [فلسطینیانو] جهنم غوښت نو جهنم ته به ورسیږئ.»**

د اسراییلو پخواني لومړي وزیر (نفتالي بِنِت) له فاکس نیوز سره په یوه مرکه کې وویل چې **اسراییل به غزه له منځه یوسي.** هغه زیاته کړه اوس د دې وخت راغلی دی چې وروسته له دې چې د شنبې په ورځ حماس پر اسراییلو برید وکړ او اسراییلي وګړي یې یرغمل کړل باید له منځه یوړل شي.[3]

[1]: د تلمود د هلاخا کتاب پر بنسټ چې وايي: د غیریهودانو هغه ښه یې هم ووژنه؛ باید د ښه مار ماغزه هم وپاشل شي. د جګړې پر مهال د دوی وژل (اجباري او واجب) دي... .

[2]: جنرال غسان علیان، د عربو د یوې مذهبي فرقې (دروزیه) څخه دی، دروزیان د مصر د فاطمیانو یوه محلده باطني ډله ده، دغې ډلې د دروز نوم د خپل یو ایراني مشر (محمد ابن اسماعیل نشتګین الدروزي) څخه اخیستی دی. نوموړې ډله اوسمهال په لبنان، سوریه، اردن او فلسطین کې استوګنه کوي چې یو شمېر یې په اشغالي فلسطین کې مېشته دي او د اسراییلو تابعیت لري، ځینې یې د اسراییلو په صهیونستي پوځ کې کار کوي. دروزیان یو ځانګړی مذهب لري، دوی د خپلې ګروهې له امله له عربو جلا شوي او د مسلمانانو له تاریخي او تلپاتې دښمنانانو (اسراییلو) سره اوږه په اوږه ولاړ دي، سره له دې چې اسراییل دوی ته په ښه سترګه نه ګوري او څه ډول چې لازمه ده اهمیت نه ورکوي، یوازې د اړتیا پر مهال یې د خپلو مزدورانو او وسلې په توګه استعمالوي.

[3]: فتالی بنت: حماس و غزه را ویران خواهیم کرد.
https://www.etelaabama.ir



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدا ډول د اسراییلو په پارلمان کې د ښځو د برابرۍ او پراختیا وزیره (چې ښځه یې لېوه ته ورته ده) له دروزي جنرال غسان علیان څخه هم وړاندې ولاړه په ډېر ویاړ یې وویل:«**زه په غزه کې د نویو زیږېدلو ماشومانو په وژلو او د غزې په ویجاړولو ویاړم.»**[4]

اسراییلي صهیونستي ځواکونو د خپلو جنایتونو په ترڅ کې هره ورځ په سلګونو ښځې، ماشومان، سپینږیري او بېوسلې فلسطینیان وژل. د غزې د روغتیا وزارت خبر خپور کړ چې **د جګړې په لومړۍ میاشت کې له ۴۰۰۰ څخه زیات یوازې ماشومان وژل شوي دي.**[5]

د فلسطینیانو پر وژنو او شړنو سربېره، د صهیونستانو د بندیزونو له امله په غزه کې بېساری لوی ناورین (فاجعه) رامنځ ته شو.

د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق (یونیسف) مشري څرګنده کړه چې **د اکتوبر له ۷مې راپدېخوا، [د شپږو میاشتو په اوږدو کې] په غزه کې له ۱۳۸۰۰ څخه زیات ماشومان وژل شوي دي.** د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق مشرې (کاترین راسل) په یوه خبري ناسته کې وویل: زرګونه کسان ټپیان شوي او نور زرګونه د قحطۍ په درشل کې دي.

د رویترز له قوله، د ملګرو ملتونو د جنسیتي برابرۍ او ښځو د پیاوړتیا اداري په یوه بله اعلامیه کې ویلي: **په غزه کې په هرو لسو دقیقو کې یو تن ماشوم ټپي یا وژل کیږي...** یونیسف په غزه کې د دومره زیاتو ټپي ماشومانو په لیدلو حیران شوی دی، نه یوازې په روغتونونو، بلکې د سړکونو پر سر او پناځایونو کې هم.[6]

د اسراییلو پرله پسې هوایي بریدونو او دوامداره چاودنو په غزه کې د ماشومانو رواني حالت ته زیان اړولی دی. د ۱۶ ورځو له بمباریو وروسته، ماشومان له شدید ټکان سره مخ شوي چې نښې یې د بېهوښۍ (اختلاجات) تاوتریخوالي، شپېلۍ میتیازې او عصبي کېدو په بڼه څرګندې شوي دي. د غزې د ماشومانو په روغتونونو کې په ٪۹۰ ماشومانو کې د وېرې او خواشینۍ نښې لیدل شوي، ډېری یې له ټکان وروسته تر سخت فشار لاندې دي او ٪۸۲ یې له مرګ سره د مخ کیدو په وېره کې دي.[7]

د اسراییلو د پرلهپسې ډلهییزو وژنو، په ځانګړې توګه د ماشومانو د وژنو له امله ډېرو هېوادونو **د اسراییلو رژیم او پوځ یې د ماشومانو دښمن او ماشوم وژونکي وبلل.**

ملګري ملتونه په یو راپور کې د اسراییلو او غزې د جګړې په اړه وايي چې د تېرو ۶ میاشتو په اوږدو کې په غزه کې له لسو زرو زیاتو ښځو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. ملګرو ملتونو د غزې په تړانګه کې د اسراییلي پوځ او حماس تر منځ جګړه **(د ښځو پر وړاندې جګړه) بللې ده. په راپور کې راغلي چې په تېرو ۶ میاشتو کې له لسو زرو وژل شویو ښځو څخه ۶ زره یې میندې وې چې د دوی له وژل کیدو وروسته ۱۹ زره یتیم ماشومان تري پاتې شوي دي.**

ملګري ملتونه وايي هغه ښځې چې له جګړې ژوندۍ پاتې شوې، کونډې، بېکوره او بېځایه شوې ښځې دي چې اوس له لوږې او قحطۍ سره لاس او ګرېوان دي.

د دغه راپور له مخې هغه مهال په غزه کې له یو میلیون زیاتې ښځې او نجونې تقریباً پرته له خوړو، څښاک اوبو، تشنابونو او حفظ الصحي اړینو توکو ته لاسرسی نه لري او د اړوندو ناروغیو له خپرېدو سره مخ دي. د ملګرو ملتونو

---

[4]: په دې لېنک کې یې وګورئ:
[https://www.instagram.com/akbarganji60/reel/C3xN9YKuFH8](https://www.instagram.com/akbarganji60/reel/C3xN9YKuFH8)

[5]: *Al-Mughrabi, Nidal (6 November 2023). ["Gaza death toll tops 10,000; UN calls it a children's graveyard"](). [Reuters]().*

[6]: لېنک: یونیسف : از آغاز جنگ تاکنون حدود ۱۴۰۰۰ کودک در غزه جان ...

[7]: *لېنک: شرووډ، هریت (22 اکتبر2023) [کودکان در غزه پس از 16 روز بمباران دچار ترومای شدید می شوند]()*

راپور، په غزه کې د کډوالو ښځو او نجونو وضعیت **(نانساني)** بللی دی. د غزې د روغتیا وزارت وایي چې **د تېرو شپږو میاشتو راهیسې ۳۳ زره او ۸۴۳ فلسطینیان وژل شوي دي.**[8]

د نومبر په ۱۷مه، د نړیوال روغتیایي سازمان مشر (تیډروس ادهانوم ګبریسوس) وویل چې په غزه کې ۲۰،۰۰۰ کسان ځانګړو رواني روغتیایي خدمتونو ته اړتیا لري.

د ۲۰۲۴ز. کال د جنوری په ۹مه، د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږي دفتر (OCHA) راپور ورکړ **چې ۴۸۵،۰۰۰ کسان د رواني روغتیا له ستونزو او ګډوډی سره مخ دي.**

د ۲۰۲۴ز. کال په مارچ کې یو امریکایي ډاکټر وویل چې داسې ښکاري چې **د اسراییلو پوځ په قصدي توګه د شپې بمبارۍ کوي ترڅو خلک له رواني ناروغیو سره مخ شي.**[9]

د اسراییلو د تروریستي اعمالو څخه یو هم د بېوسلي او بېدفاع عامو فلسطیني وګړو نیول او بربنډول وو چې په خبري رسنیو کې یې په پراخه کچه انځورونه خپاره شول، په انځورونو کې ښودل کېدل چې **اسراییلي عسکرو فلسطیني بندیان د خلکو پر وړاندې بربنډ کړي او په سړې هوا کې ساتل کېږي.**[10]

له بلې خوا اسراییلي صهیونستانو د خپلو جنایاتو په لړ کې په غزه کې پرته له توپیره پر عامو وګړو منع شوي کیمیاوي توکي هم وکارول، **د بشر د حقونو څارونکی سازمان په غزه کې د اسراییلي ځواکونو لخوا د سپین فاسفورس توکو د کارولو تایید وکړ، ویې ویل چې د دغو ډول وسلو کارول (د بشر له حقونو سرغړونه ده)** چې د غیر نظامیانو ژوند ته ګواښ پېښوي.[11]

د بشر د حقونو څارونکی او د ښبنې بینالمللي بحران د شواهدو لابراتور راپور ورکړ چې اسراییلي پوځي ډلو په غزه او لبنان کې سپین فاسفورس مهمات کارولي دي. په ورته وخت کې څو خبري رسنیو لکه بيبيسي، د غیر نظامیانو په وړاندې د دې ډول مهماتو د کارولو تایید کړی دی... د بشري حقونو سازمانونو په وار، وار د غیرنظامیانو پر وړاندې د دغو وسلو د کارولو غندنه کړې خو د اسراییلو دفاعي ځواکونه (IDF)په پراخه کچه د دا ډول وسلو کارولو ته دوام ورکوي.[12]

---

[8] :https://www.bbc.com/persian/articles/c4n13wqxjyyo

9:Israelis 'purposely bomb by night for psychological effect': Doctor". Al Jazeera.
https://www.aljazeera.com/news/liveblog/2024/3/14/israels-war-on-gaza-live-rafah-attack-coming-soon-despite-pressure?update=2773295

10:"Israeli images showing Palestinian detainees in underwear spark outrage".
https://www.reuters.com/world/middle-east/hamas-condemns-israel-over-images-showing-semi-naked-palestinian-prisoners-2023-12-08/

[11] :447 children and 248 women among 1,417 killed in Israeli strikes in Gaza"
https://www.reuters.com/world/middle-east/447-children-248-women-among-1417-killed-israeli-strikes-gaza-2023-10-12/

[12]: "Israel: White Phosphorus Used in Gaza, Lebanon | Human Rights Watch"
https://www.hrw.org/news/2023/10/12/israel-white-phosphorus-used-gaza-lebanon


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د حماس روغتیا وزارت وایي چې د ۲۰۲۴ز. کال د فبرورۍ په ۲۹مه نېټه، د اسراییلو پوځي ځواکونو په غزه کې د بشري مرستو د ترلاسه کولو پر مهال **په صف کې پر ولاړو فلسطینیانو باندې ډزې وکړې چې په دې ډزو کې ۱۱۲ فلسطینیان ووژل شول.**[13]

د ۲۰۲۴ز. کال په فبرورۍ کې، د غزې د مالوماتو دفتر اعلان وکړ **چې د اسراییلو پوځ په قصدي توګه کورونو ته اور اچوي.**[14]

لکه څه ډول چې د اسراییلو په مکلفیتونو کې وایي چې د جګړې پر مهال ټول غیرپهودان باید ووژل شي. نو ځکه اسراییلي ځواکونو په هېڅ او په هېڅ ژوي صرفه ونه کړه، **اسراییلي ځواکونو د غزې په جګړه کې شاوخوا ۱۶۰تنه خبریالان ورک او وژلي دي. د حماس د رسنیو دفتر له مخې، د دسمبر تر ۲۴مې نېټې پورې لږترلږه ۱۰۳ تنه خبریالان او د رسنیو کارکوونکي د اسراییلو په هوایي بریدونو کې وژل شوي دي.** د یورو نیوز د احصاییې له مخې چې (د خبریالانو د ساتنې کمیټې) څخه اخیستل شوې، دغه جګړه د تېرو درو لسیزو په اوږدو کې د خبریالانو لپاره تر ټولو مرګوني میاشت ده چې له ۵۳ وژل شوو خبریالانو څخه ۴۶ فلسطیني، ۳ تنه لبناني او (د اسراییلي مقاماتو په حواله) ۴ تنه اسراییلي خبریالان دي.[15]

الجزیرې ټلویزیون د لړم میاشتې په دریمه د چهارشنبې په شپه راپور ورکړ **چې په غزه کې د الجزیرې ټلویزیون د دفتر مشر او خبریال (وایل الدحدوح) مېرمن، زوی، لور او لمسی، د اسراییلي رژیم په هوایي برید کې وژل شوي دي.**

الجزیرې ویلي چې د الدحدوح د کورنۍ استوګنځی په منځنۍ غزه کې د فلسطیني کډوالو د النصیرات په پنډغالي کې په نښه شوی دی، هغه ځای چې دوی د اسراییلو د بمباریو له وېرې هلته پناه وړې وه.

د دې خبریال د کورنۍ غړي چې پخوا په شمالي غزه کې اوسېدل، د اسراییلي پوځ په غوښتنه سویلي سیمو ته تللي وو.

په غزه کې د الجزیرې د دفتر مشر وایل الدحدوح، انځورونه چې د الجزیرې ټلویزیون څخه په ژوندۍ بڼه خپرېدل، د خپلې مېرمنې، لور او زوی جسدونه یې په غېږه کې نیولي وو.16

د اسراییلو له دې جنایت لږ وروسته په غزه کې د الجزیرې د یو بل خبریال (معامن الشرفي) پر کور برید وشو چې اسراییلو د نوموړي خبریال د کورنۍ ۲۲ تنه غړي شهیدان کړل. دغه برید سهار مهال د (جبالیا) کډوالو پر پنډغالي باندې ترسره شو.

د شهیدانو په منځ کې د الشرفي، مور، پلار، خویندې، ورونه، د هغوی مېرمنې او ماشومان شامل وو. الشرفي وایي چې یو چاودېدونکي بم زموږ د کور په منځ کې لویه کنده جوړه کړه چې د امدادي ټیمونو لپاره یې د وژل شویو کسانو رایستل ناشوني کړل.

---

13: "112 dead in chaotic scenes as Israeli troops open fire near aid trucks, say Gaza officials". theguardian https://www.theguardian.com/world/2024/feb/29/more-than-a-hundred-dead-after-israeli-troops-opened-fire-near-aid-trucks-say-gaza-officials

14: Beaumont, Peter (8 November 2023). "We can't ignore these people': huge surge in numbers fleeing Gaza City". The Guardian. https://www.theguardian.com/world/2023/nov/08/thousands-flee-gaza-under-watch-israeli-tanks

15:.https://parsi.euronews.com/2023/11/21/israel-hamas-chinese-president-calls-for-an-international-conference-for-peace

16: خبرگزاری افق: همسر و فرزندان مدیر الجزیره در غزه کشته شدند https://ufuqnews.com/archives/219643



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د نومبر په ۱۳مه د اسراییلو خبري رسنۍ ټایمز راپور ورکړ چې د نتن‌یاهو کابینې د قانون پر بنسټ په اشغالي فلسطین کې د (المیادین) تلویزیون د فعالیت مخنیوی وکړ. یوه اونۍ وروسته د نومبر په ۲۱مه **اسراییلي رژیم د دې رسنۍ دوه خبریالان (فرح عمر) او (ربیح المعمري) په جنوبي لبنان کې په یوه هوایي برید کې شهیدان کړل. دوی د حزب الله او اسراییلو تر منځ د نښتو د پوښښ پر مهال په نښه شول.**

د خبریالانو د ساتنې کمېټې یوه ورځ وروسته د المیادین خبریالانو پر وړاندې د قصدي برید په اړه شک څرګند کړ او د خپلواکو څېړنو غوښتنه یې وکړه. [17]

حقیقت دا دی چې د اسراییلو لخوا د خبریالانو عمدي وژنو موخه په لومړي ګام کې د الجزیرې، المیادین او نورو ټلویزیونونو بندول وو چې په غزه او لبنان کې د اسراییلو له جنایتونو او ناانساني کړنو پرده پورته کوله.

### د فلسطینیانو جبري کډوالي

د اسراییلو د وسله‌والو ځواکونو، هوایي، توپچي او توغندیزو بریدونو له امله د غزې عام وګړي له هر ډول کړاوونو سره مخ شول چې په هغو کې د فلسطینیانو جبري کډوالي چې له یو ځای بل ځای ته په تېښته کې وو، ډېر د خواشینۍ وړ دی، **د دې بې‌دفاع او بې‌ګناه فلسطیني کډوالو ۷۰٪ سلنه هغه کډوال دي چې د اسراییلو د اشغال پر مهال په بېلابېلو کلونو کې غزې ته مهاجر شوي دي** چې نوموړي کډوال او د غزې ځایي فلسطینیان د ۲۰۲۳ز. کال د جګړې په اوږدو کې د اسراییلو د بمباریو او د اسراییلو د جبري شړنو له امله څو ځلې په غزه کې له یو ځای څخه بل ځای ته په تېښته کې وو، یو تن فلسطیني کډوال، له یو ټلویزیون سره په مرکه کې وویل چې موږ اته ځله له یو ځایه بل ځای ته په تلو اړ شوي یو. هغه وویل چې نور سترې یو نه شو کولی بل ځای ته ولاړ شو، دا مو وروستی ځای دی.

د تسنیم خبري اژانس د عربي سایټ د راپور له مخې، یوې فلسطینۍ مېرمنې چې د (بیت حانون) اوسېدونکې ده، د غزې په شمال کې له جګړې راهیسې اووه ځله بې‌ځایه کېدو ته اړه شوې ده.

(اسعد الکفاریه) چې د رفح ښار یو بل کډوال دی، تسنیم خبریال ته وویل: صهیونیستانو موږ پنځه ځله بېلابېلو سیمو ته بې ځایه کړي یو، موږ ته یې وویل چې رفح ته ولاړ شئ او اوس له موږ غواړي چې رفح هم پرېږدو.[18]

شمالي بیت حانون ښار چې داسراییلي پولې څخه یوازې دوه کیلومتره واټن لري، د هغو لومړنیو سیمو څخه ؤ چې د اسراییلو د بریدونو هدف وګرځېد او درنه مرګ ژوبله یې ولیده.

اسراییلو د غزې ښار او نورو شمالي ښاري مرکزونو د بمبارۍ په دوام، ملکي وګړو ته امر وکړ چې د خپل ژوند د خوندیتوب لپاره، د اکتوبر په پای کې د ځمکني عملیاتو له پیل مخکې د غزې سیند سویل ته ولاړ شي چې همم‌هاله د اسراییلو هوایي بریدونه په سویلي ښارونو باندې دوام درلود او د شمال څو سوه زره اوسېدونکي دې سیمو ته په حرکت کې وو.[19]

د جګړې په اوږدو کې اسراییلي پوځ د سختو هوایي او راکټي بمباریو پر مهال (یو میلیون سل‌زره) غزه‌والو ته وویل چې د غزې شمال ته دې کډه شي چې له بلې خوا حماس ډلې له دغو اوسېدونکو وغوښتل چې په خپلو کورونو کې پاتې شي. دا په داسې حال کې دي چې د اسراییلو پوځ د غزې په جنوبي لارو کې خندونه هم جوړ کړي دي.[20]

---

[17]: *شهادت ۲۲ عضو خانواده خبرنگار الجزیره در حمله هوایی اسرائیل*
*HTTPS://WWW.YJC.IR*
[18]: آوارگی بی‌پایان؛ روایت هفت بار کوچ اجباری اهالی غزه
https://www.aparat.com/v/ids2d9u
[19]: بي‌بي‌سي
[20]: "Hamas tells Gaza residents to stay put as Israel ground offensive looms".

د اکتوبر په ۱۳مه د پناه غوښتونکو شورا اعلان وکړ چې د اسراییلو دا غوښتنه چې د غزې وګړي په جبري توګه بلې سیمې ته لېږدول کیږي، **یو جنګي جنایت دی.** اسراییلو په ۲۴ ساعتونو کې له خلکو وغوښتل چې له شمالي سیمو جنوبي سیمو ته وخوځیږي.[21]

د اسراییلو د بمباریو په لومړیو څو ورځو کې ګڼ شمېر فلسطینیان اړ شول خپل کورونه پرېږدي، د اکتوبر میاشتې په ۲۱مه نېټه د ملګرو ملتونو د کارموندنې او مرستې رسولو استازولې (UNRWA) اعلان وکړ **چې (۵۰۰،۰۰۰) کسانو په غزه کې د ملګرو ملتونو په تاسیساتو کې پناه اخیستې او حالات د زغملو نه دي.**[22] **چې د اکتوبر تر پایه دا شمېره تر (۶۷۰.۰۰۰) پورې لوړه شوه.**[23]

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو دفتر وویل چې د اکتوبر تر ۲۲مې نېټې پورې په غزه کې ۴۲٪سلنه کورونه ویجاړ شوي او د اکتوبر تر ۲۳مې پورې د اسراییلو د بمباریو له امله، **شاوخوا (۱.۴ میلیونه) فلسطیني وګړي بې‌کوره شوي دي.**[24]

د نومبر په ۲مه، (UNRWA) اعلان وکړ چې د دوی ۵۰ ودانۍ او شتمنۍ، د څلورو پناه ځایونو په ګډون د اسراییلو د بریدونو له امله اغېزمنې شوې دي.[25]

د نومبر په ۶مه، د الجزیرې خبریال هاني محمود **سویلي غزه د یو لوی جبري کار کمپ په توګه تشریح کړه.**

د غزې په ښار کې د جګړې له زیاتېدو پر مهال د اسراییلو پوځ د غزې اوسېدونکو ته د غزې سویل لور ته د تللو لپاره د ورځې څلور ساعته وخت ورکړ چې له امله یې زرګونه کسان له ښاره وتښتېدل.

(فیلیپ لازاریني) په نږدې ختیځ کې د فلسطیني کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د مرستې او کار اداري عمومي کمېشنر په ټولنیزو رسنیو کې اعلان وکړ چې د اسراییلو د بریدونو له مخې، له ۷۵ زرو زیات فلسطینیان د غزې جنوب ته په کډه کولو اړ شوي دي.
د اسراییلو له دې امر کولو وروسته چې فلسطینیان دې د خان یونس په ختیځ کې، له خپلو سیمو کډه شي، ډیرې کورنۍ د غزې لویدیځو سیمو ته په جبري توګه کډه کوي.
لازاریني د خان یونس له ختیځ څخه لویدیځ ته د فلسطینیانو د جبري کډوالو انځورونه په ټولنیزو رسنیو کې شریک کړل

https://www.reuters.com/world/middle-east/hamas-tells-gaza-residents-stay-home-israel-ground-offensive-looms-2023-10-13/

21: "447 children and 248 women among 1,417 killed in Israeli strikes in Gaza"
https://www.reuters.com/world/middle-east/447-children-248-women-among-1417-killed-israeli-strikes-gaza-2023-10-12
22: "UNRWA chief underscores duty to protect civilians at all times".
*https://news.un.org/en/story/2023/10/1142647*
23:"Gaza incursion will 'continue and intensify,' IDF says "
https://www.nbcnews.com/news/world/live-blog/israel-hamas-war-live-strikes-gaza-hospitals-palestinians-shelter-rcna122721
24: Mohamed, Yusri (23 October 2023). "Third aid convoy enters Gaza, UN warns fuel about to run out". Reuters.
https://www.reuters.com/world/middle-east/third-gaza-bound-aid-convoy-enters-rafah-crossing-egypt-sources-2023-10-23/
25:UNRWA says four shelters damaged in Gaza in last 24 hours". Al Jazeera.
https://aje.io/k8y4b6?update=2458116


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

ويي وليکل:«**د فلسطينيانو د ناپايه کډواليو لړۍ دوام لري.**» هغه يادونه وکړه چې فلسطينيان د څو لسيزو راپديخوا د جګړو او نښتو سره مخ دي.

هغه زياته کړه ويي ويل چې ځيني خلک يوازې خپل ماشومان له ځان سره اخلي او نور بيا خپل ټول ژوند په يوه کوچني کڅوړه کې ساتلې دی، دوی اړ دي په هغو پنډغالو کې ځای‌پرځای شي چې لا له وړاندې له ډېرې زياتې ګڼې‌ګوڼې سره مخ دي. دوی هر څه له لاسه ورکړي او د ژوند تولو توکو ته اړتيا لري. **د غزې خلک، د نورو جګړو برعکس، په غزه کې بند پاتې دي او هيڅ ځای ته نه شي تللی.**[26]

فيليپ لازاريني د جنوری په ۱۷مه وويل: تاسو په سړکونو کې سلګونه زره خلک وينئ چې په لنډمهاله پلاستيکي خېمو کې ژوند کوي او په کانکرېټ باندې ويده کېږي.

همدارنګه محمود بصل، د فلسطين د مدني دفاع وياند په يوه اعلاميه کې وويل: **اسراييلو د خان يونس د ختيځ او مرکز د تخليې غوښتنه کړې چې هغه يې د (امن سيمې) په توګه اعلان کړي وه، همداراز يې د ديرالبلح، مغازي او الزوايده د تخليې غوښتنه هم کړې.** چې د اسراييلو د دا ډول کړنو له امله د ۴۵۰ زرو فلسطينيانو بشري وضعيت په خطر کې دی. محمود بصل وويل: د اسراييلو د اشغال له امله هغه فلسطينيان چې په ځينو سيمو او د غزې د کډوالو په پنډغالو کې ژوند کوي، اړ دي د خپلو ويجاړو شويو کورونو او پناځايونو څخه کډه وکړي او دا حالت خورا ستړی‌کوونکی او دردونکی دی.

هغه زياته کړه چې **د نړيوالو قوانينو له مخې، د ويرې، تاوتريخوالي او لوږې د رامنځ ته کولو له امله جبري کډوالی غيرقانوني دي.** اسراييلي ځواکونه څو ځله د غزې په خان يونس او د مرکزي غزې په پنډغالو کې د فلسطينيانو د جبري کډواليو لامل شوي دي.

بصل زياته کړه چې څو ځله يې د ملګرو ملتونو او د نړيوال عدالت له محکمې غوښتنه کړې چې پر اسراييلو باندې فشار راوړي، ترڅو د فلسطينيانو جبري کډوالۍ ودروي.[27]

په ملګرو ملتونو کې د فلسطين دايمي استازي رياض منصور، د دې سازمان چارواکو ته په يو ليک کې ټينګار وکړ چې **د اسراييلو لخوا د غزې خلکو جبري کډوالی د خلکو په مېنځ کې رواني ناروغی رامنځته کړې دي.** هغه په دې ليک کې د ملګرو ملتونو سرمنشي (انتوني ګوترش)، په ملګرو ملتونو کې د روسيې دايمي استازي واسيلي نبينزيا، د امنيت شورا د دورميي رييس او د دې سازمان د عمومي غونډې رييس ډينس فرانسيس ته خبر ورکړی چې د غزې خلک د څو ځلي جبري کډوالۍ له امله له رواني ناروغيو سره مخ شوي دي. په ملګرو ملتونو کې، د فلسطين دايمي استازي دې ته ګوته ونيوه چې د غزې د شمالي سيمو خلک لومړی ځل د ۲۰۲۳ ز. کال په اکتوبر کې په زوره کډوالۍ ته اړ شول او اوس اسراييلي پوځ بيا له فلسطينيانو غواړي چې خپل کورونه په شمالي غزه کې پرېږدي.

هغه زياته کړه: **خلک هيڅ ځای ته نه شي تللی او نه هم داسې ځای لري چې هلته ځان خوندي احساس کړي. اسراييلي پوځ د غزې زياتې برخې ويجاړې کړې دي.**[28]

دا وو د فلسطينيانو د لالهاندۍ او منډو ترړو په اړه يو څه مالومات چې وړاندې شول خو له دې بيا ها خوا، بده خو لا دا چې، د امريکا نوي ټاکل شوي ولسمشر ډونالډ ټرمپ (چې موږ د چرګ په ستاينوم نومولی دی[29]) د اشغالګرو اسراييلو،

---

[26] : سازمان ملل: بیش از 75 هزار فلسطینی پس از تصمیم اسرائیل...
https://www.aa.com.tr/fa

[27] : کوچ اجباری 450 هزار فلسطینی در غزه توسط اسرائیل
https://didpress.com

[28]: *فلسطین: مهاجرت اجباری مردم غزه آسیب‌های روانی زیادی درپی ...*
*HTTPS://WWW.AA.COM.TR/FA*

[29]: ډونال ټرمپ داسې يو ساده او ژر غوليدونکی کس دی چې هر څوک په لږ هنر سره د ده ستاينه وکړي، نو څه چې ورته ووايی هغه يې مني او څه چې ترې وغواړي ترسره کوي يې، داسې چې د هر چا لاس ته چې ورغی د هغه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په ځانګړي توګه د ترهګرو مشر بینیامین نتن‌یاهو د یوازیني ستر ارمان د پوره کولو، هغه خیالي خوب چې ټول فلسطینیان به له غزې شړل کیږي، په خپله یوه وینا کې نړیوالو ته څرګند کړ. **ټرمپ وویل چې د غزې وګړي به مصر او اردن ته ولیږدول شي امریکا به غزه خپله کړي او په یوه تفریحي سیمه به یې بدله کړي.** د ټرمپ د دا ډول احمقانه وینا له امله د ملګرو ملتونو سرمنشي؛ د امریکا اروپایي متحدین لکه بریتانیه، فرانسه، جرمني او نور اروپایي هېوادونه؛ چین، روسیه، عرب او مسلمانو هېوادونو او د نړۍ نورو ډېرو هېوادونو غبرګونونه ښکاره کړل او د ټرمپ وړاندیز یې رد کړ.

سربېره پر دې د نړیوال مهاجرت سازمان لوی رییس اعلان وکړ چې دا سازمان به هېڅکله د غزې د اوسېدونکو په هر ډول اجباري کډوالۍ کې برخه وانخلي. د نړیوال مهاجرت سازمان لوی رییس (امي پوپ) وویل چې هر ډول اجباري بې‌ځایه کېدل به د سیمې د هېوادونو سره کړښه وي.

هغه زیاته کړه: موږ یو بشردوستانه سازمان یو نو ځکه په داسې فعالیتونو کې چې د اصلي ځړو هېوادونو لپاره سره کرښه ده، برخه نه اخلو. پوپ چې په ژمي کې غزې ته سفر کړی ؤ وویل: ودانۍ په بشپړ ډول ویجاړې شوې دي، ګاډي په اور کې سوځېدلي او خلک د نړېدلو ودانیو تر سیوري لاندې د اورونو شاوخوا راټولېږي، هڅه کوي ځانونه تاوده وساتي.[30]

د امریکا ولسمشر ټرمپ او کورنۍ یې چې په حقیقت کې د اسراییلو لخوا روحاً او جسماً یرغمل شوي دي، بنیامین نتن‌یاهو د غزې په اړه د ټرمپ دا ډول احمقانه طرحه وستایله **او د ټرمپ پوهه یې له نورو انسانانو لوړه او د هغه افکار یې له دودیزو افکارو متفاوت او بهر وبلل. نتن‌یاهو د ټرمپ په مخامخ ستاینه کې وویل:«تاسو به ښه نښه په نښه کړئ، تاسو هغه څه وینئ چې نور یې له لیدلو ډډه کوي... دا هغه ډول تفکر دی چې منځني ختیځ ته به نوې بڼه ورکړي.**[31]

د اسراییلي صهیونستانو د ترهګرو مشر بنیامین نتن‌یاهو امریکا ته له ډونالډ ټرمپ سره په خپل لومړي سفر کې په سپینه ماڼۍ کې لیدنه وکړه چې د لیدنې پر مهال یې **د ټرمپ د هڅونې، پارونې او هغه ته د یو ډول مرموزې ګوتڅنډنې په موخه د (پیجر**[32]**) یوه دستګاه چې په سرو زرو پوښل شوې وه ډالۍ کړه.** د دا ډول ډالۍ ورکولو مانا دا وه چې اسراییلي صهیونستي تروریستي رژیم کولی شي د دا ډول شیطاني لارو څخه خپلې ترهګریزې کړنې تر سره کړي، د اسراییلو په دغه ډالۍ کې د ټرمپ لپاره هم یو پټ پیغام خوندي ؤ، داسې چې که هغه مخالفت وکړي د ده کار به هم وکړي. هغه مهال چې اسراییلي دولتي ترهګرو په لبنان کې د دغو پیجرونو په وسیله خپل پټ او ناپامه ترهګریز عملیات تر سره کړل، ټرمپ دغه تروریستي عملیات تایید او ستاینه یې وکړه، ویې ویل چې د اسراییلو دا بریدونه **(ستر عملیات)** وو. د

دی، ځکه خو ما ټرمپ ته د چرګ ستاینوم ورکړ چې یو شاعر ویلي وو: چرګ خو یو مرغه دی چې چا ونیو د هغه دی.

[30]: لېنک: مخالفت سازمان بین‌المللی مهاجرت با طرح کوچ اجباری ملت
www.isna.ir
[31]: بي‌بي‌سي، فارسي.
[32]: پیجر یوه داسې وسیله ده چې د اړیکو د پیغام اخیستلو لپاره کارول کیږي چې شخص د پیغام لیږونکی (د اړیکو غوښتونکی) د عادي ټلیفون څخه د پیجر د مقابل لوري شمېره اخلي او خپل عددي، لیکلی یا غږیز پیغام لیږي. په ډیر لږ وخت کې، پیغام د پیجر په وسیله ترلاسه کیږي.
دغه وسیلې چې په لبنان کې د حزب‌الله غړو او عامو لبنانیانو کارولې، د اسراییلي ترهګرو ادارو لخوا چاودیدونکي توکي په کې ځای شوي وو چې دوی کولی شول چاودنه ورکړي، هغه وو چې د ۲۰۲۴ز. کال د سپتمبر په ۱۷مه نېټه په لبنان کې اسراییلو نومړو دستګاوو ته هممهاله چاودنې ورکړې او په دې شېطاني او تروریستي بریدونو کې په زرګونو چاودنې وشوې، ډېر کسان ټپیان او یو شمېر ووژل شول.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اسراييلو په دغو ترورستي عملياتو کې له (۳۵۰۰) کسانو زيات خلک ټپيان او ۳۲ تنه ووژل شول چې شاوخوا ۲۰ تنه د حزب‌الله غړي او ۱۲ تنه ملکي وګړي وو او په ټپيانو کې ډېر شمېر ښځې او ماشومان هم ژوبل شول.

نېټه:۱۴۰۳/۱۲/۱۸ل. ل

**نور بيا**

د ښاغلي محمد انور اثر نوري ليکني په دی لينک کې ولولی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ